**مطبوعاتي اعلاميه**

**په تانزانيا کې پولیسو روژې مبارکې میاشتې ته د حزب التحرير د هرکلي کنفرانس مخه ونيوله**



پوليسو ډير په سپين سترګی د حزب التحرير له لوري د روژې مبارکې مياشتې د ښه راغلاست کنفرانس چې ټاکل شوې وه، د ۲۰۱۷ د مې په ۲۰ مه په دارالسلام کې د «میفیر» په هوټل کې جوړ شي، مخنيوی وکړ. پوليسو د مې په ۱۹ مه په داسې وخت کې، هوټل ته يو ګواښوونکی ليک واستاوه، چې يوازې څو ساعته د کنفرانس پيل ته پاتې وو. د راپور له مخې، دوی په دې پلمه دا کار کړی، چې دا يوه پټه ليدنه وه او ګډونوالو يې د ټولنې پر وړاندې کوم بد نيت درلود.

موږ حزب التحرير -ولايه تانزانيا، دا پوښتو چې ايا پټه ليدنه داسې وي، چې يوه هوټل ته له ۴۵۰ څخه زيات کسان راغوښتل شوي وي، يا هم پټې ليدنې ته مختلف مشهور شخصيتونه لکه ماموران، امامان، زده کوونکي، سياستوال، ژورناليستان، قانون پوهان، فعالان او نور راغوښتل کيږي؟

پر دې سربېره که دا پټه ليدنه وای، نو بيا يې ولې په ويبپاڼو او نورو ټولنيزو رسنيو کې په ازادانه خبر ورکړل شوی و؟ که په رښتيا دا پټه ليدنه وای، بيا نو لې د کنفرانس د منع کېدو امر چې له کنفرانس څخه يوه ورځ مخکې صادر شوی و، موږ ته د کنفرانس له پيل څخه يوازې څو ساعته مخکې خبر راکړل شو؟

د دوی دا کړنه د ډيموکراټيک نظام، د هغه ظلم او بې عدالتۍ څرګندونه کوي چې په ټوله نړۍ کې يې حکومتونو په ثبوت رسولې. په داسې حال کې چې دوی بيا د تش په نامه د عقيدې او بيان ازاديو ادعاوې کوي؛ خو په حقيقت کې دا يوازې خالي شعارونه دي.

موږ په ډېر درنښت، له ټولو دعوت شوو کسانو څخه د دوی د هغو تکليفونو له امله بښنه غواړو، چې د دې مهمې ناستې د بنديدو له امله ورسره مخ شوي. په دغه کنفرانس کې پر حساسو موضوعاتو سربېره په نړيواله کچه د کپيټليزم د ناکامي په اړه هم خبرې کېدې. موږ بيا هم په ډېره خواشينۍ دوی ته دا په ګوته کو چې دا سناريو د کپيټليزم او د هغه د سياسي نظام (ډيموکراسی) د ناتوانۍ، نا مناسبوالي او نااغېز منتوب څرګندونه کوي، چې بشر ته حتی د دې فرصت هم نه ورکوي، چې د يوې حساسې موضوع په اړه پرېکړه وکړي. اوس هغه وخت را رسېدلی چې هر روڼ اندی متکفر د بديل په توګه د يوې بلې ايډيالوژۍ په هلکه فکر وکړي، بېشکه هغه «اسلام» دی، چې د حکمرانی نظام يې «خلافت» دی.

**مسعود مسلم**

**په تانزانيا کې د حزب التحرير مطبوعاتي استازی**

**۱۴۳۸هـ، د شعبان ۲۴ مه**

۲۰۱۷م، د مې ۲۱ مه
شمېره: ۰۴/ ۱۴۳۸